مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۲/۰۷/۲۵

# د معرفت جوهر

په ځپل احساس ښوک پوهولی ، نشم
چـاته دردمـن زړګی ،ښـودلی نشم
په زړه لـرمه ،ناویـلی قـیصـی
غوټي د زړه چـاته ، سـپړلی نشم
یم لاروی ، د بـیدردی ، د کـاروان
دا خپل احسـاس ، چـا کي لیدلی نشم
دی انسـاني احسـاس په زړه راسره
خـپل انسـاني احساس وژلـی نشـم
هـومـره حـالاتـو،کـړولی یمـه
چي په آرام زړګـي ، ژړلـی نشـم
چي وي جـوهر د مـعرفت ورسـره
یو صـاحـبدل دلتـه،میـندلی نشم
چي پري ماتیږي د دردمـنو ،زړونه
داسـي یو حرف چـاته، وییلی نشـم
د زړه سـکون ، رانه حـالاتو وړی
ځـکه په ډکـه خـوله خنـدلی نشـم
چي چیرته و نشـي احسـان له لاسه
اغــزي د چـا مـخ ته کرلی ، نـشم

کال ۲۰۱۷کلفرنیا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ